# ګڼونکی او بایلونکی

محمد نعیم مخلص

۱ـ ګټونکي تل د ځواب اصلی برخه ده
بایلونکي تل د ستونزي برخه ده

۲ـ ګټونکي تل پلان لري
بایلونکي تل یوه پلمه لري

۳ـ ګټونکي وایي:(پرېږده چې درته ترسره یې کړم)
بایلونکي وایي: دا زما دنده نه ده

۴ـ ګټونکي د هرې ستونزي لپاره د حل لاره پیدا کوي.
بایلونکي په هره حل لاره کې ستونزه پیدا کوی.

۵ـ ګټونکي وایي: ښایي ستونزمنه وي. خو شوني ده.
بایلونکي وایي: ښایي ترسره شي خو ډېر په سختي

۶ـ ګټونکي چې تېروتنه وکړي وایي: زما ګناه ده.
بایلونکي چې تېروتنه کړې وایي: زما ګناه نه وه.

۷ـ ګټونکي ژمن دې
بایلونکي وعده کوي

۸ـ ګټونکي وایي: زه باید یو څه وکړم.
بایلونکیوایي: دا کار باید ترسره شي.

۱۰ـ ګټونکي د ټیم برخه دي.
بایلونکي له ټیم څخه بیل دي.

۱۱ـ ګټونکي ګټې ویني.
بایلونکي دردونه ویني.

۱۲ـ ګټونکي شونتیاوې ویني.
بایلونکي ستونزې ویني.

۱۳ـ ګټونکي پر ګټه باور لري
بایلونکي باور لري د دې لپاره چې یې وګټي یو بل څوک یې باید وبایلي.

۱۴ـ ګټونکي بالقوه ځواک ګوري.
بایلونکي تیر وخت ته ګوري.

۱۵ـ ګټونکی هغه څه ته چې وایې لومړیتوب ورکوي.
بایلونکي هغه څه ته چې لومړیتوب ورکوي وایي یې.

۱۶ـ ګټونکي په ستونزمنو بحثونو کې له ساده کلمو کار اخلي.
بایلونکي د ساده بحثونو لپاره سخت توري کاروي.

۱۷ـ ګټونکي ارزښت لرونکو کړنو ته ژمن دي خو لږ ارزښت لرونکي هم له یاده نه وباسي.
بایلونکي پر بې ارزښته شیانو ټینګار کوي خو ارزښت لرونکي ترې پاتې وي

۱۸ـ ګټونکي د زړه سوی پر فلسفه باور لـــري. څه شي چې ځانته نه غواړې د نورو لپاره یې هم غوره نه ګڼي.
بایلونکي بیا له دې فسلفې پیروي کوي. نورو ته زیان ورسوه وړاندې له دې چې هغوی زیان درته ورسوي.

۱۹ـ ګټونکي ځان ته خوښي پیدا کوي.
بایلونکي غواړي چې بل څوک خوښي ورکوی.

۲۰ـ ګټونکي پلان جوړوي او د بریالیتوب لپاره چمتوالي نیسي دلته مهمه کلمه چمتوالي دي.